د سملاسي خپراوي لپاره
۲۸ سنبله ۱۳۸۸

اړیکه: Kathy Gest,
kgest@ndi.org, 202-728-5535

**ملي ډموکراتيک انستيتيوت (NDI) د افغانستان د ټاکنو د درغلی په اړه اندېښنه ښيي**

واشنګټن ډي سي – نن د ملي ډموکراتيک انستيتيوت (NDI) په افغانستان کې د ټاکنو د چارواکو سره په لويه کچه د درج شويو شکاياتو په اړه ژوره اندېښنه څرګنده کړه.

نوموړي انستيتيوت په يوې بيانيې کې وويل، "اوس د افغانستان د ټاکنو اعتبار پدې کې نغښتی چې د ټاکنو د شکاياتو د اورديو کميسون په سمه توګه د نوموړو شکاياتو پلټنه وکړي". "که چيرې د هغو درغليو روښانه او د منلو وړ شواهد په ګوتو نشي کوم چې د ټاکنو د شکاياتو د اوريدو د کميسون له خوا ترلاسه شوي، نو د افغان ولس د ارادې څرګندول به ناممکن وي."

د ملي ډموکراتيک انستيتيوت وويل چې د رايو د شميرنې د بهير نظارت ته به ادامه ورکړي. نوموړي انستيتيوت زياته کړه، "د ټاکنو بهير پاي ته ندی رسيدلی او اړينه ده چې نړيواله ټولنه د ټاکنو د هرې مرحلې نظارت وکړي."

د ملي ډموکراتيک انستيتيوت د اسد د ۲۹ د ولسمشرئ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د يو نړيوال نظارت ماموريت ترسره کړ. نوموړي انستيتيوت دهيواد د ۳۴ ولاياتو څخه په ۱۹ ولاياتو کې د ۱۰۰ څخه زيات ملي او نړيوال ناظرين وګمارل ترڅو د ټاکنو هراړخيز نظارت ترسره کړي چې د کمپاين، د ټاکنو په ورځ رايې اچونه او د ټاکنو څخه وروسته دوران پکښې شامل دی. د نظارت نوموړی پلاوی د شپږو لويو وچو د ۱۱ هيوادونو څخه تشريف راوړئ ؤ چې ددولت اوسني او پخواني چارواکي، د سياسي ګوندونو او ټاکنو چارواکي، د ډموکراسی استازي او د بشر د حقوقو د سازمانونو استازي او اکادميک اشخاص پکښې شامل ؤ.

همدارنګه انستيتيوت يادونه وکړه چې "يواځې د ولسمشرئ د ټاکنو پايلې له دغه خطر سره مخ ندي بلکې نوموړی خطر په ۳۴ ولاياتو کې د ولايتي شوراګانو ټاکنو ته هم متوجه دی چې ترټولو ډيرې خلکو ته نژدې دولتي ادارې په ګوتو کيږي. د ولايتي شوراګانو مشروعيت هم د افغانستان د واکمنو ادارو لپاره دااهميت وړ دی."

يوه ترټولو جدي ستونزه د خلکو د بې سارې ونډې اوچت شمېر په ګوتو کيږي. د ملي ډموکراتيک انستيتيوت يوه تحليل په يو شمېر ولاياتو کې د ټاکنو د پايلو په اړه د اندېښنو ښودنه وکړه چې نورستان، پکتيا، هلمند او بادغيس پکښې شامل دي، په نوموړو ولاياتونو کې د ورکول شويو راپورونو له مخې د رايې ا چونې په ګڼ شمېر مرکزونو کې د هر مرکز د ۶۰۰ څخه زياتو رايو راپور ورکول شوی دی چې نوموړی شمير د رايې ورکونې د اټکل شوي شمېر ۱۰۰ فيصده جوړوي. دا د هيواد د هغوي ولاياتو په ډله کې دي چې امنيتي وضعيت يې ډير ښه ندی. ددې ته ورته نامطلوب وضعيت او غير عادي حالاتو څخه د ژورنالستانو، سيمه ايزو ناظرينو او نړيوالو ناظرينو لخوا پرده پورته شوې ده.

په مجموعي توګه د ټاکنو د شکاياتو کميسون ۲۸۴۲ شکايتونه ترلاسه کړي چې ۷۲۶ يې مهم بلل شوي دي يا لومړيتوب ورکول شوی دی. همدارنګه اعلانوي چې د رايې ورکونې په يو لړ مرکزونو کې يې د

درغلیو روښانه شواهد ترلاسه کړي دي، نو په همدې اساس د روان کال د سنبلې په ۱۷ نیټه د ټاکنو د شکایاتو د اوریدو کمیسیون د افغانستان د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه وغوښتل چې د رایې اچونې د هغو مرکزونو شمیرنه بیا له سره کړي په کومو کې چې د رایيو مجموعه د ۶۰۰ سره برابره او یا ورڅخه زیاته شوي وي یا د ولسمشرۍ کوم کاندید د ټولو اچول شویو رایو ۹۵ فیصده ترلاسه کړي وي، پدې شرط چې د رایې اچونې په محل کې د ۱۰۰ څخه زیاتې رایيې اچول شوي وي. لکه څرنګه چې د سنبلې په ۱۷ د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۹۱,۶ فیصده رایې شمیرلې وې، نوموړی کمیسیون هیله لري چې د شمیرنې بهیر به د دوهم ځل د شمیرنې د پیل څخه مخکښې پاې ته ورسیږي.

د ملي ډموکراتیک انستیتوت وویل، "افغانان باید پدې ډاډمن وي چې د ټاکنو پایلې د هغوي د ارادو څرګندوي دي. دا د هر هغه دولت د باوریتوب د ورتیا لپاره مهم دی کوم چې د رایيو په پایله کې رامنځته کیږي."